مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد معصوم هوتک
۲۰۱۹/۱۲/۱۴

# صدراعظم

## سید نور محمد شاه پښيني کندهاری

### اوومه برخه

**ما څه موده پخوا د صدراعظم سيد نورمحمد شاه پښيني کندهاري په باب ځو پرله پسي ليکني خپرى کړى. ځينو دوستانو راڅخه وغوښتل چې که دا موضوع يو څه پسي پراخه سي، ښايي ګټوره به تمامه سي.**

**ما د دوی غوښتنه ومنله او د مدارکو په محسوسه نيستي کي مي دا څېړنه د يوه کتاب په بڼه ترتيب کړه. که محترم لوستونکي زما د دې حاضري ليکني او په دې باب د نورو خپرو سوو ليکنو ترمنځ مکررات ووينې، د مهربانی له مخي دي د احسن تکرار په سترګه ورته وګوري او ما دي وبخښي.**

م. هوتک

**د سيد نورمحمد شاه د وفات مسئله:**

علامه حبيبي کښلي دي:

"واقعهٔ وفات سید نورمحمدشاه در انجام کنفرانس پشاور بتاریخ ۲۷ مارچ ۱۸۷۷م (۷ حمل ۱۲۵۷ش) از حوادث قابل تامل تاریخ است، که این صدراعظم سیاست مدار در مذاکرات خود به نفع افغانستان مقاومت شگفت انگیزی نمود، و از مقاصد مهم او اعادهٔ مجدد وادی پشین و کویته بافغانستان بود، ولی متاسفانه بصورت فجایی اسرار آلودی از جهان رفت."

اروابناد غبار کښلي دي:

"در طی همین مذاکرات بود که صدراعظم ناگهانی در بستر نزع افتاد و در ۲۶ مارچ ۱۸۷۷ بشکل مرموزی چشم از جهان پوشید." (۶۲)

مرحوم عطايي کښلي دي:

"د همدغو خبرو په جريان کي د ۱۸۷۷ د مارچ پر ۲۶ نېټه سيد نورحمد شاه په ناڅاپي توګه مړ شو( دا يو مرموز مرګ دی)..." (۶۳)

علامه رشاد کښلي دي:

"... سيد نورمحمد شاه په پېښور کي ناروغه سو او هلته د همدغي ناروغی او روحي فشار په سبب د لومړی خور په منځ کي ۱۲۹۴ هـ ق سني چي مطابق له ۲۷ سره د مارچ ۱۸۷۷ سني کيږي وفات سو". (۶۴)


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيز بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولـئ

قاضي عطاء الله خان ليکلي دي چي سيد تر کنفرانس دمخه هم ناروغ وو او د مذاکراتو په جريان کي د انګرېزانو ناوړو غوښتنو پر ده باندي روحي فشار (stress) نور هم زيات کړ او تر مرګه ئي ورساوه. (۶۵)

لارډ ليټن ليکلي دي چي " سيد نورمحمد شاه د سختي ناروغی له امله د مارچ پر شپږويشتمه مړ سو." (۶۶)

کرنيل هنا د خپل کتاب په لومړي ټوک ۱۶۹مخ کي کښلي دي چي د سيد نورمحمد شاه د وفات پر انګرېزي مقاماتو دده د فات پر وخت شپيته توپه وويشتل او دا شمېر ئي د عمر د هر کال په حساب ټاکلی وو. ګويا سيد د وفات پر وخت شپيته کلن وو.

قاضي عطاء الله خان د پښتنو تاريخ په دويم ټوک ۳۷۲مخ کي د وفات پر وخت د سيد عمر شپږپنځوس کاله ښللی دئ.

د دغو دوو روايتو له مخي بايد د سيد نورمحمد شاه د زېږېدو کال ۱۸۲۳م يا ۱۸۱۹م وبولو. دا کلونه پر ټول افغانستان باندي د بارکزيو ورونو د تسلط لومړي کلونه دي.

تر وفات وروسته ئي زوی سيد محمد شاه د امير شيرعليخان له خوا ځايناستی وټاکل سو او د پلار ټول امتيازات ئي ورکړل سول.

په دې باب د سيد نورمحمد شاه په کورنی کي دده د زوی سيدمحمد شاه په باب يو فرمان سته چي د امير شيرعلی نوم پر ليکلي دئ او علامه حبيبي ليکلي دي چي له متن او قراينو څخه داسي ښکاري چي دا فرمان بايد د سردار شيرعليخان بن مهردلخان په نامه صادر سوی وي ، ځکه نوموړی په دغه وخت کي د کندهار والي وو. (۶۷)

علامه حبيبي ددغه فرمان د معرفي او تشريح په باب په اريانا مجله کي داسي کښلي دي:

"دا فرمان د خوقندي کاغذ پر يوه اوږده پاڼه باندي په متوسط شکسته ډوله نستعليق خط ليکل سوی دئ خو پر هغه باندي د اميرشيرعليخان د نورو فرمانو په شان مُهر نسته. مګر په پای کي يو کوچنی څلور کونجه مُهر لري چي د سر خوا ئي د تاج په شکل ده او په منځ کي ئي " واحد" ليدل کېږي.

د کښتنی مربع په مابين کي چي کونجونه ئي تراشل سوي او مثمن څني جوړ سوی دئ ، د سر خواته ئي ۱۲۸۹هـ سنه او تر لاندي ئي په طغرا ډوله ثلث خط دوه واره امير شيرعلي کښل سوی دئ.د فرمان پر شا د" محمد نبي ۱۲۹۰" کوچنی مُهر په نستعليق خط او يو بل څلور کونجه مُهر چي زاويي ئي توږل سوي دي، په متوسط نستعليق خط ليدل کېږي چي پر هغه باندي ئي " لوکشل دبيرالملک ۱۲۹۱" ليکلی دئ.

دا دواړه د ګوتي مُهرونه د هماغه دبير الملک (لوکشل) رسمي مهرونه دئ چي ددربار سرمنشي وو. د هغه چا نوم چي دغه فرمان ئي په نامه کښل سوی دئ، ځرګند نه دئ ، خو له القابو او د فرمان له موضوع څخه ځرګندېږي چي د سردار مهردلخان کندهاري زوی سردار شير علي خان به وي چي د وزيراکبر خان تر زوی فتح خان وروسته د کندهار حکمران او نائب الحکومه وو.

د فرمان متن داسي دئ:

"صاحب معظم مکرم محترم والاشانا!

چون در همه اوقات جناب شان از جهت داد و بيداد مردم رعيت قندهار که از دست جور و تعدی عاليجاه فتح خان در آزار بوده و ميباشند، شکوه نګار شده اند. بناء علی هذا چون سيادت پناه نجابت دستګاه سيد محمدشاه ولد مرحوم صدراعظم واقف کار ماليات و معاملات کليه و جزئيه قندهار و برخورد و برد دخل و عمل حکومت عاليجاه فتح خان بوجه اکمل مستحضر و خبردار بوده و می باشد، بلکه به تمامی رعايا و برايای مردم قندهار مخصوص خدمت ګذاری سرکار اشرف امجد برابطه رويه و رفتار سروکار داشته و دارد. درينولا از حضور الطاف دستور همايون والا، سيادت پناه مذکور را حاکم ملکيه قندهار و محکوم حکم آنصاحب رفعت مدار مقرر و مامور فرموديم، که در آنجا ميرسد. البته در انتظام و انجام امور ماموره اش کما ينبغی پرداخته، تا بدستياری توجه آنصاحب محترمی در خدمت ګذاری و اخلاص شعاری حضرت شهرياری بطريقهٔ شايسته قيام و اقدام نمايد، و حسن خدمت خود را بوضع لازمه بظهور برساند فقط.

درينولا بسمع اشرف والا رسيد، که احمدجان خان کوتوال آدمان خود را در قريه جات مقرر کرده، باخذ وجر پنج روپيه مردم رعيت را متهم ساخته اذيت ميرساند. آنصاحب مکرم احمدجان خان را طلبيده اولاً آدمان او را از قريه


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

جات یک قلم موقوف فرمایند و ثانیاً قدغن فرمایند که بدون درون شهر بیموجب باحدی تعرض نشود. اگر احیاناً از کسی خطایی واقع شد، بجناب شما اطلاع بدهد، خود شما شخص مجرم را بحضور خواسته و به تحقیق گناهش پرداخته. اگر لایق قصاص باشد قصاص کنید. و هر گاه مورد بازخواست شد سزا بدهید. و اگر چنانچه سزاوار جرم بود وجه جریمه بگیرد فقط.

هر گاه پنج نفر خاصه دار بجهت تحصیل و جمع آوری ضبطی ها و پنج نفر سواربرای تحصیل مالیات دیوانی محالات بکار سیادت پناه مذکور شود مقرر فرمایند تا بکار خود معطل نشود، و سرگرم پرداخت امورات خود بخوبی و درستی باشد فقط.

باقی خلاصه جمع و خرج مجمل قندهار را ساخته ارسال شده، که سیادت پناه مذکور از نظر آنصاحب میگذراند. در خصوص طلب و تنخواه مردم سوار و وظیفه خوار و غیره کلاً و جزءً علم خود را بخوبی آورده از قرار افراد جمع و خرج مرسوله معمول میدارند. و از مردم وظیفه خوار لایق و نالایق آن را دیده و سنجیده بدهند، که مردم بعبث وظیفه نبرند.

اگر چه تا بحال بمردم سپاه و وظیفه خوار، طلب و تنخواه شان از عالیجاه فتح خان به تمام نرسیده، اکنون از روی خلاصه جمع و خرج قندهار که ارسال شده، بعد ازآنکه مدلل خاطر جناب شما گردید طلب و تنخواه هر یک از مردم سوار و وظیفه خوار بتمامی خواهد رسید و انشاء الله تعالی در هیچ امری از امور آنجا فرو گذاشت نخواهد شد، فقط.

تحریر یوم سه شنبه ۲۱ شهر جمادی الثانی سنه ۱۲۹۴.

صاحبا! دیروز یوم دوشنبه ۲۰ بجهت استحضار صاحبی، شرح ملاطفهٔ هذا بداگ هم ارسال شده است، اطلاعاً قلمی گردید. "مهر امیر شیرعلی".



د مکتوب اصل



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de

یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

## له سید جمال الدین افغان سره ئي لیدنه کتنه:

د سید نورمحمد شاه په باب محلي روایتونه وايي چي ده د شرق  د بیدارولو د ستر علمبردار سید جمال الدین افغان (۱۸۳۸ـ ۱۸۹۶م) سره کتلي وه.

سید جمال الدین افغان د کونړ د ساداتو په کورنۍ کي ډېر ستر عالم او هوښیار شخصیت وو چي وروسته ئي په ټولو اسلامي هیوادو او نړۍ کي د مسلمانانو د اتحاد او پرمختګ په مبارزه کي د لوی داعي لقب وګاټه. دی په ځواني کي د فارس، هند، حجاز، شام او عراق په سفر وووت او تر دغه سفر وروسته په ۱۸۶۱م کي د هرات له لاري افغانستان ته بیرته راغی. (۶۸) دوه کاله په هرات کي پاته سو او د هرات د نیولو له پاره ئي د امیردوست محمد خان د یو کلني کلابندۍ جریانات ټول تر نظر تېر سول. په هرات کي ئي د امیر دوست محمد خان د وفات او د سردار شیرعلیخان د پاچا کېدلو په مراسمو کي ګډون درلود.
په دغو کلونو کي لکه دمخه چي مو په لومړي فصل کي ویلي دي، سید نورمحمد شاه په کندهار کي د سردار محمد امین خان د زوی سردار محمد اسماعیل خان (۶۹) سره د نائب په توګه د امیر دوست محمد له خوا موظف سوی او په کندهار کي وو.

سید جمال الدین افغان په ۱۸۶۶ـ ۱۸۶۷م کال کي په کندهار کي اوسېدی او د هغو عالمانو او مشرانو نومونه ئي پخپلو یاداښتو کي راوړي دي چي ده په کندهار کي د استوګني پر وخت ورسره کتلي ول. (۷۰) په دی کسانو کي د سید نورمحمد شاه نوم نسته.

سید جمال الدین افغان په ۱۸۶۸م کال (۱۲۸۵هـ ق د شعبان پنځمه) د کندهار له  لاري د حج په نیت له هیواده وووت او بیا نو د وفات تر وخته بیرته افغانستان ته راغلی نه دئ. افغانستان ته د سید جمال الدین افغان ددغه پلا راتګ په اووو کلونو کي به سید یا په هرات ، یا په کابل یا کندهار کي وو او له سید نورمحمد شاه سره به ئي هم په همدغو ښارو کي کتلي وي. ددغي کتني محلي روایت تر موږه رارسېدلي دئ خو لیکلي مدارک ئي په لاس کي نه لرو.

## د اوومي مي برخي لمنلیکونه:

۶۲ــ غبار، ۶۰۳مخ
۶۳ــ عطایي ، ۱۰۹ مخ
۶۴ــ کندهار مجله ـ ۱۲ مخ
۶۵ــ د پښتنو تاریخ ـ ج ۲، صــ .....
۶۶ــ وګ : The History of Lord Lytton's India - pp 154
۶۷ــ سردار شیرعلیخان یو وار په ۱۸۶۹ع کي د کندهار والي وو، بیا په ۱۸۸۰ ــ ۱۸۸۱ع کي. په ۱۸۸۱ع کي له وطنه وووت.
۶۸ــ رفیع ، حبیب الله ، سید جمال الدین افغان و افغانستان ، صــ ۱۳، چاپ ۱۳۸۵ش، کابل
۶۹ــ سردار محمد اسماعیل خان په ۱۸۷۳م کال په لاهور کي مړ سوی دئ.
۷۰ــ وګ : مجموعهٔ اسناد و مدارک چاپ نشده دربارهٔ سید جمال الدین مشهور به افغانی

نور بیا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ